# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**7میزان_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان | صفحه

د مهاجرینو چارو سرپرست د پنجشیر ولایت د مهاجرینو چارو آمریت څخه لیدنه وکړه ---------------------------- 1
۱۸ خانواده در ولایت پکتیا کمک نقدی دریافت نمودند------------------------------------------------------------ 1
رییس مهاجرین ولایت غزنی، با وزیر شهر سازی و مسکن دیدار کرد------------------------------------------------ 2
وزیر سرحدات پاکستان از ملل متحد و کابل خواست تا در بازگرداندن مهاجران افغان همکاری کنند------------------ 3
پاکستان در مورد برخی کارت های مهاجرین افغان و احتمال تمدید آن بررسی های تازه انجام میدهد----------------- 4
یونان له تېرو څو میاشتو راهیسې له پناه غوښتونکو سره مالي مرستې بندې کړې------------------------------------- 6
د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته د کډوالو اوښتل: د سوم پر سواحلو د امنیتي تدابیرو ډېرېدل---------------------- 8
آلمانی سازمان: د ایټالیا حکومت له نړیوالو قوانینو سرغړونه کوي---------------------------------------------- 10
آلمان صدها پناهجوی ترک را به کشورشان اخراج می کند---------------------------------------------------------- 11

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو سرپرست د پنجشیر ولایت د مهاجرینو چارو آمریت څخه لیدنه وکړه

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په داسې حال کې چې د مهاجرینو چارو وزارت یو شمېر رئیسانو یې ملتیا کوله د پنجشیر ولایت د مهاجرینو چارو آمریت له مختلفو شعبو څخه لیدنه وکړه او د هغوی غوښتنې او وړاندیزونه یې له نږدې واورېدل

ښاغلي حقاني ددغه امریت له کارکوونکو سره د ناستې پرمهال په اخلاص، اطاعت، همغږی، روڼتیا، د کاري بهیر په چټکتیا او نورو اړینو اصلاحاتو په رامنځته کولو ټینګار وکړ

د پنجشیر د مهاجرینو چارو امر حاجي محمد رها ابرار ښاغلي حقاني ته د ریاست د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او د چټکتیا او روڼتیا په اړه یې ډاډ څرګند کړ

په پای کې ددغه امریت کارکوونکو خپلې ستونزې او مشکلات شریک کړل، چې د حقاني صیب له لورې د حل ډاډ ورکړل شو

## ۱۸ خانواده در ولایت پکتیا کمک نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**برای ۱۸ خانواده نیازمند در ولایت پکتیا مساعدت نقدی بتاریخ ۳ میزان توزیع شد.**

**کمک یادشده مبلغ ۱۷ هزار و ۷۵۰ افغانی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان بود که هرخانواده آن را پس از شناسایی توسط ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان آن ولایت دریافت نمودند.**

## رییس مهاجرین ولایت غزنی، با وزیر شهر سازی و مسکن دیدار کرد

ویب سایت وزارت



**مولوی مطیع الله عرب، رییس امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت غزنی، به روز چهارشنبه ۴ میزان سال روان با مولوی حمد الله نعمانی وزیر شهرسازی ومسکن دیدار نمود.**

**در این دیدار در رابطه به تطبیق مسوده پلان تفصیلی شهرک ابوریحان البیرونی و سروی توپوگرافی زمین های باقی مانده شهرک نمبر ۲ ریاست مهاجرین ولایت غزنی بحث وگفتگو به عمل آمده و تصامیم لازم اتخاذ گردید.**

## وزیر سرحدات پاکستان از ملل متحد و کابل خواست تا در بازگرداندن مهاجران افغان همکاری کنند

**آریانانیوز**

**او اظهار کرد که هیچ کشوری در جهان به جز پاکستان به پناهجویان اجازه زندگی بدون داشتن اسناد مورد نیاز را نداده است.**



امیر مقام، وزیر امور مناطق سرحدی پاکستان از جامعه جهانی، سازمان ملل متحد و امارت اسلامی خواسته است تا در بازگرداندن مهاجران افغان به کشور شان همکاری کنند.

او روز پنجشنبه در جریان بازدید از یک کمپ مهاجران افغان در ولسوالی قلعه عبدالله ایالت بلوچستان گفت که پاکستان تا حد ممکن به مهاجران کمک می‌کند تا «شرافتمندانه و محترمانه» به کشور شان برگردند.

او اظهار کرد که هیچ کشوری در جهان به جز پاکستان به پناهجویان اجازه زندگی بدون داشتن اسناد مورد نیاز را نداده است.

وزیر امور مناطق سرحدی پاکستان ضمن اشاره به حملات در این کشور، از امارت اسلامی خواست تا نگذارد از خاک افغانستان بر ضد پاکستان استفاده شود. امارت اسلامی همواره تاکید کرده که نمی‌گذارد از خاک افغانستان علیه کشور دیگری استفاده صورت گیرد.

امیر مقام همچنین مدعی شد که برخی از مهاجران افغان مقیم کشورهای مختلف علیه پاکستان «تبلیغات» می‌کنند.

او گفت: «آنها باید بدانند که نباید برای پناهجویان افغان مقیم پاکستان مشکل ایجاد کنند.»

در ماه نومبر سال گذشته، پاکستان روند اخراج مهاجران فاقد اسناد را آغاز کرد و تاکنون صدها هزار افغان این کشور را ترک کرده اند.

## پاکستان در مورد برخی کارت های مهاجرین افغان و احتمال تمدید آن بررسی های تازه انجام میدهد

رادیوآزادی




تعدادی از مهاجرین افغان در پاکستان که کارت های اقامت ان کشور را نیز دارند اما با خطر اخراج مواجه هستند .

پاکستان برنامه بررسی کارتهای اقامه پناهجویان افغان را در این کشور را توسعه میدهد . در این مورد، امیر مقاموزیر دولت پاکستان در امور مناطق سرحدی این کشور، به روز جمعه در جریان دیدار از یک کمپ پناهجویان افغانستان در بلوچستان سخن گفت.

به نوشته بعضی از رسانه های افغان و روزنامه دان پاکستان، امیر مقام از کمپ سارانان در قلعه عبدالله به پناجویان این کمپ گفت که پاکستان بعد از بررسی دقیق ، بعضی از کارتهای فسخ شده اقامه را شاید دوباره با اعتبار اعلان نماید.

او از جامعه جهانی، ملل متحد و حکومت سرپرست افغانستان خواست که در بخش اسکان مجدد پناهجویان افغان به وطن شان کمک کنند ، مهاجرانی که به گفته او سالها در پاکستان زنده گی کرده اند.

او همچنان تائید نمود که شرایط این کمپ مهاجرین بسیار ناگوار است و پناهجویان در اینجا از کمبود آب اشامیدنی، برق و مشکلات دیگر رنج می برند.

پاکستان در ماه اکتوبر سال ۲۰۲۳ اعلان نمود که تمام پناهجویان بدون اسناد افغان را از این کشور خارج میکند. نظر به معلومات ملل متحد از آنوقت تا حال ۷۰۰ هزار پناهجوی افغان به کشورشان برگردانده شده اند.

## یونان له تېرو څو میاشتو راهیسې له پناه غوښتونکو سره مالي مرستې بندې کړې

مهاجرنیوز




**یونان کې یو شمېر سازمانونه وايي چې د ۲۰۲۴ له می میاشتې راهیسې له پناه غوښتونکو سره مالي مرستې بندې شوې دي. په ورته مهال، د یونان کډوالۍ وزارت په دې اړه له نظر ورکولو ډډه کوي.**

**یونان کې د کډوالو شورا مشر لفتریس پاپاجیاناکیس کډوال نیوز سره خبرو کې وايي: «دا په دې مانا ده چې کډوال برمته نیول شوي دي«.**

**د ۲۰۲۴ له می میاشتې راهیسې یونان کې له پناه غوښتونکو سره مالي مرستې بندې شوې دي. د لېسبوس حقوقي مرکز د سپتمبر په ۱۷مه د یوې اعلامیې په خپرولو سره پر دغه وضعیت نیوکه کړې ده. په یاده اعلامیه کې راغلي دي: «دغه حالت د کورنیو او اړمنو خلکو په ګډون زرګونه کسان اغېزمن کړي دي«.**

**د اروپايي کمیسیون د راپور له مخې، اوسمهال یونان کې د پناه غوښتونکو شمېر ۶۰ زرو تنو ته رسېږي چې ډېری یې په پنډغالو کې ژوند کوي. که څه هم په کمپونو کې پناه غوښتونکو ته ډوډۍ او سرپناه ورکول کېږي، خو دوی د خپلو اداري چارو د پر مخ وړلو لپاره پیسو ته اړتیا لري. لفتریس پاپاګیاناکیس وايي چې کډوال سرپناه او خواړه لري، خو اصلي مشکل دا دی چې «دا مرسته د ترانسپورټ لپاره کارول کېږي». په یونان کې کمپونه په لرو پرتو سیمو کې موقعیت لري او کډوال اړ دي چې دولتي ادارو ته د تګ لپاره له ترانسپورټ څخه کار واخلي.**

**د مهاجر کمپونو او ښارونو ترمنځ سرویسونه کم دي. همدا راز عامه ترانسپورټ هم په ټولو سیمو کې فعال نه دی. پاپاګیاناکیس وايي چې خلک باید اداري مصاحبو کې حاضر شي او «د مالي مرستو بندول کولی شي چې د هغوی پر راتلونکي ناوړه اغېز ولري«.**

د یونان د کډوالۍ وزارت بیا په دې اړه له نظر ورکولو ډډه کوي. کډوال نیوز هڅه وکړه چې له یوناني چارواکو سره اړیکه ونیسي او د چارواکو نظر واخلي، خو بریالی نه شو.

**حکومت معلومات نه ورکوي**

یونان کې د کډوالو شورا مشر وایي: «ګومان کوم چې د پیسو مشکل دی. خو حکومت موږ ته هېڅ هم نه وایي. یوازې هغه وخت حساب ورکوي چې له سیاسي لحاظه یې وضعیت خراب وي».

یونان کې له کډوالو سره مالي مرسته د اروپايي ټولنې او په ځانګړې توګه د پناه غوښتنې، کډوالۍ او ادغام له اروپايي صندوق څخه ورکول کېږي او تر ۲۰۲۷ پورې به دوام ولري.

په یونان کې مجردو کډوالو ته په میاشت کې ۷۵ یورو، جوړو او یا هغو یوازې مېندو او یا پلرونو ته چې یو ماشوم ورسره وي ۱۳۵ یورو، او څلورکسیزو کورنیو ته ۲۱۰ ورکول کېږي – په دې شرط چې دغه کسان سرپناه او خوړو ته لاسرسی ولري. د یونان د کډوالو شورا مشر وایي دا مبلغ زیات نه دی، خو کډوالو ته اجازه ورکوي چې خوراکي توکي واخلي او پخپله اشپزي وکړي.



نیا کاوالا مهاجر کمپ. انځور: کډوال نیوز، دانا البز

نړیوال سازمانونه له کلونو راهیسې یونان کې د پناه غوښتونکو د ژوند پر وضعیت نیوکه کوي. دمګړی د اروپا په دغه هېواد کې د پناه غوښتنه تقریباً ناممکنه شوې ده. په ۲۰۲۳ کې د یوې تخنیکي ستونزې له امله د پناه غوښتنې آنلاین پلېټفورم ته د خلکو لاسرسی په بشپړه توګه قطع شو. دغې ستونزې هم ګڼ شمېر کډوال اغېزمن کړل. هغه مهال پاپاګیاناکیس ویلي وو چې ځینې کډوال له همدې کبله بې اسناده پاتې دي او د اخراج له خطر سره مخ دي.

په یونان کې منل شوي کډوال هم له بېلابېلو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي او دولت یې ملاتړ نه کوي. د بشري حقونو سازمانونه د حکومت پر ځای کډوالو ته د ژبې کورسونه جوړوي او د اداري پروسو او یا کار او کور موندلو په برخه کې ورسره مرسته کوي.

## د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته د کډوالو اوښتل: د سوم پر سواحلو د امنیتي تدابیرو دېرېدل

مهاجرنیوز



له تېرو څو اونیو راهیسې د امنیتي ځواکونو یوه ډله د فرانسې د سوم سیمې په ساحلي اوبو کې ګزمه کوي. دا په داسې حال کې ده چې له څو میاشتو را په دې خوا د سوم د سواحلو په اوږدو کې امنیتي تدابیر سخت شوي وو .

د ۲۰۲۴ د سپټمبر له لومړۍ نېټې راهیسې شاوخوا لس سرتېري د سوم په ساحلي اوبو کې ګزمه کوي. د سرتېرو دغه ډله دنده لري له هغو کډوالو سره مرسته وکړي چې په سمندر کې له ستونزې سره مخ کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د روان کال د اپریل له لومړۍ نېټې راهیسې د ژاندارمرۍ درې ډلې چې په بې پیلوټه الوتکو او چورلکو مجهزې دي په دغه سیمه کې ماموریتونه ترسره کوي.

اوسمهال یو شمېر کډوال هڅه کوي چې د سوم یا پیکارد له سواحلو څخه په وړو کښتیو کې ځانونه برېتانیا ته ورسوي. د فرانس ۳ او دو فرانس د خبر له مخې، د سپتمبر په ۲۱ او ۲۲ شاوخوا ۲۰ کډوالو هڅه وکړه چې د سن والري سور سوم او کایو سور مېر څخه برېتانیا ته واوړي، خو پولیسو یې مخه ونیوله. د فرانسې د سمندري قومندانۍ شمېرې ښیي چې د روان کال له پیل څخه د سپتمبر تر ۲۰مې پورې برېتانیا ته د اوښتونو ۴۰۶ کډوالو مخه نیول شوې او ۵۲۱ نور کډوال برېتانوي سواحلو ته په رسېدو بریالي شوي .

د سوم قومندان فرانس ۳ ته ویلي دي: «د ۲۰۲۴ له پیل راهیسې سوم برېتانیا ته د اوښتو له استثنایي هڅو سره مخ دی... د لومړي ځل لپاره کډوال له اولت څخه نیولې تر فور مه اون پلاژ پورې د سوم له ټولو سواحلو څخه [برېتانیا ته] د تلو هڅه کوي«.

له تېرو دوو کلونو راهیسې کډوال نه یوازې د پا دو کالې بلکې له نورو سواحلو څخه د برېتانیا پر لور حرکت کوي. دا ځکه چې د پا دو کالې د سواحلو په اوږدو کې امنیتي تدابیر - بې پیلوټه الوتکې، چورلکې، کمرې، د فرانټکس الوتکې - زیات شوي دي. اوسمهال قاچاق وړونکي هڅه کوي چې کډوال له کانالونو او یا سیندونو او یا هم د سوم له سواحلو څخه برېتانیا ته ولیږدوي .



چارواکو د دې پدیدې د مهارولو لپاره د سوم د سواحلو په اوږدو کې امنیتي تدابیر زیات کړي دي. د سوم قومندان رولون موشل بلېزو وايي چې «د دغو تدابیرو موخه د انسانانو د ژوند ژغورل او له هغو قاچاقبرانو سره مبارزه کول دي چې د کډوالو له بدبختۍ څخه ناوړه ګټه پورته کوي .«

خو د بشري حقونو سازمانونه بیا وايي چې د امنیتي تدابیرو زیاتول د حل لاره نه ده. په کالې کې د یوتوپیا ۵۶ همغږۍ کوونکی اکسل ګودینا وايي چې چارواکي «په سم مسیر روان نه دي». هغه زیاتوي چې پر سواحلو د امنیتي تدابیر ډېرېدل د دې سبب شوي چې «کډوال له لرو پرتو سیمو څخه برېتانیا ته د اوښتو هڅه وکړي چې له امله یې ګواښونه هم زیات شوي دي .«

د امنیتي تدابیرو سره سره له فرانسې څخه برېتانیا ته د کډوالو سفرونه لا هم ادامه لري. د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت د شمېرو له مخې، یوازې د سپټمبر په ۲۱ او ۲۲ تر ۱۴۲۰ کډوال د سمندر له لارې برېتانوي سواحلو ته په رسېدو بریالي شوي دي. سږ کال کې تر دې دمه برېتانیا ته د رسېدلو کډوالو شمېر تر ۲۵ زرو تنو اوښتی دی. دا رقم د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۴ سلنه ډېروالی خو د ۲۰۲۲ په پرتله ۲۱ کموالی ښيي .

د یادولو ده چې د روان کال له جنورۍ راهیسې ۴۶ تنو برېتانیا ته د تګ پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکړی دی چې له دې سره ۲۰۲۴ په انګلیس کانال کې تر ټولو خونړی کال بلل کېږي. وروستۍ پېښه د سپټمبر په ۱۵مه د امبلتوز په ساحلي اوبو کې رامنځته شوه چې له امله یې د کډوالو د یوې کښتۍ ډوبېدنې لږترلږه اته کسان ووژل شول .

## آلماني سازمان: د ایټالیا حکومت له نړیوالو قوانینو سرغړونه کوي

مهاجرنیوز



آلماني سازمان مديترانيا سبوپنګ هيومنز له نړيوالي جزايي محکمې څخه غوښتي دي چې د ايټاليا د کورنيو چارو و زير ماتيو پيانتدوسي په اړه پلټنه وکړي. دغه سازمان وايي چې د ياد وزير له خوا په ټولنيزو شبکو کې خپور شوی پيغام ښيي چې د جيورجيا ملوني حکومت د کډوالو په اړه د ژنېو کنوانسيون ته درناوی نه کوي.

آلماني سازمان مديترانيا سبوپنګ هيومنز له نړيوالي جزايي محکمې څخه د ايټاليا د کورنيو چارو وزير په هکله د پلټنو غوښتونکی شوی دی. دغه سازمان د ماتيو پيانتدوسي هغه پيغام ته اشاره کړې چې د سپتمبر په ۱۹مه د ياد وزير پر ايکس پاڼه خپور شوی دی.

ماتيو پيانتدوسي ليکلي دي: «له جنوری راهيسی ۱۶۲۲۰ کډوال چې د اروپايي سواحلو پر لور روان وو په سمندر کې نيول شوي او روغ رمټ ليبيا ته استول شوي دي. دغه شمېرې ښيي چې د ايټاليا او د کډوالو د اصلي يا ترانزيټ هېوادونو ترمنځ همکاري اغېزناکه ده».

مديترانيا سبوپنګ هيومنز وايي دا پيغام ښيي چې د ايټاليا د کورنيو چارو وزير نړيوالو قوانينو ته درناوی نه کوي.

د ياد سازمان قضايي څانګې د ملګرو ملتونو د راپور په ګډون هغو راپورونو ته اشاره کړې چې له مخې يې ليبيا يو خطرناک هېواد دی او دغه ځای ته د خلکو استول د کډوالو په اړه د ژنېو له کنوانسيون سره په ټکر کې دي. مديترانيا سبوپنګ هيومنز په يوه اعلاميه کې ليکي دي: «خلک د دوی د ميل خلاف ليبيا ته استول د جدي جرم مصداق بلل کېږي ».

ايټاليا په ۲۰۱۷ کې د اروپايي ټولنې په مرسته له ليبيا سره د کډوالو د مخنيوي په برخه کې د همکارۍ تړون لاسليک کړ. اروپايي ټولنه د ليبيا ساحلي څواکونه روزوي او تجهيزات ورکوي. د ليبيا چارواکي د زياتو پيسو په بدل کې د خپلو پولو ساتنه کوي او اروپايي سواحلو ته د کډوالو د اوښتو مخه نيسي .

خو د بشري حقونو سازمانونه د همکارۍ دغه تړون غندي. د ملګرو ملتونو په ګډون نړيوال سازمانونه په دې آند دي چې ليبيا خوندي هېواد نه دی او له سمندره ژغورل شوي کډوال بايد دغه هېواد ته وا نه ستول شي .

ليبيا ته استول شوي کډوال رسمي بندي خانو ته اچول کېږي او له ناوتريخوالي سره مخ دي .

## آلمان صدها پناهجوی ترک را به کشورشان اخراج می کند

صدای ترکیه




**حکومت آلمان در پی مذاکرات طولانی مدت با حکومت ترکیه، روند اخراج پناهجویان ترک به کشورشان را آغاز می کند. بیشتر از ۱۳۵۰۰ شهروند ترکیه ملزم به ترک آلمان اند و برمبنای توافقنامه ای دوجانبه به کشورشان اخراج خواهند شد.**

**اخراج ها در ابتدا قرار است با پرواز های معمولی از میدان های هوایی مختلف آلمان به ترکیه انجام شودعکس :**

**حکومت آلمان فدرال، پس از ماه ها مذاکره با حکومت در انقره، روند اخراج تعداد زیادی از شهروندان ترکیه به کشورشان را آغاز کرده است.**

**به اساس گزارش روزنامه آلمانی «فرانکفورتر الگماینه سایتونگ»، در ابتدا قرار است جمعاً ۲۰۰ ترک با چندین پرواز معمولی از میدان های هوایی مختلف آلمان به ترکیه انتقال داده شوند.**

**روزنامه نامبرده از قول حلقات حکومت آلمان افزوده است که این آغاز اخراج گسترده پناهجویان ترکی به کشور شان خواهد بود. بر اساس این گزارش، ترکیه گویا پیشنهاد کرده است که هر هفته تا ۵۰۰ شهروند خود را از آلمان می پذیرد .آمادگی ها برای این امر جریان دارد.**

**در گزارش آمده است که هرچند ترکیه هنوز هم اخراج ها با پروازهای چارتر را رد می کند، اما به نظر می رسد که انقره در آینده چنین پروازها را در صورتی خواهد پذیرفت که «پرواز های ویژه» نامیده شوند.**




**این توافق ظاهراً در سفر رجب طیب اردوغان، رئیس جمهور ترکیه، در نوامبر گذشته در برلین صورت گرفته است. در آن زمان اولاف شولتس، صدراعظم آلمان، علناً از اردوغان خواستار بازپس گیری پناهجویان ترکی از آلمان شد. از آن زمان به بعد برلین و انقره به گونه فشرده روی این موضوع کار می کنند.**

**بیشتر از ۱۳ هزار و ۵۰۰ شهروند ترکیه ملزم به ترک آلمان اند و قرار است به کشورشان بازگردانده شوند. آلمان ظاهراً موافقت کرده است که در عوض، روند جاری تسهیل اخذ ویزای آلمان برای شهروندان ترکیه را تسریع کند. وعده های احتمالی دیگری در این زمینه به صورت علنی اعلام نشده است**